## پرانیستي لیک

د ۲۰۲۵ کال د اګست ۲۸

د ملګرو ملتونو سازمان د بشري حقونو د شورا د غړو او څارونکو هېوادونو استازو ته

قدرمنو جلالتمآبانو!

موږ، افغان او نړیوالي مدني ټولنې چې د دغه لیک لاسلیک کوونکي بنسټونه یو، یو ځل بیا په افغانستان کې د ورځ تر بلې خرابېدونکي بشري حقونو او بشر دوستانه وضعیت په اړه خپلې اندېښنې تاسو سره شریکوو. همدارنګه، موږ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا (HRC) څخه د افغانستان لپاره د یو خپلواک او نړیوال میکانیزم ( له دې وروسته د حساب ورکولو میکانیزم) د جوړېدو په عاجلې اړتیا بیا ځلې ټینګار کوو.

موږ، لاندې لاسلیک کوونکي د افغانستان او نړیوالې ټولنې مدني ټولنې سازمانونه، یو ځل بیا تاسو ته د افغانستان د بشري حقونو او بشري ناورین د ژورتیا په اړه خپلې جدي اندېښنې وړاندې کوو. همدارنګه، موږ د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا (HRC) څخه ددې عاجلې اړتیا تکرار کوو چې د افغانستان لپاره یو خپلواک نړیوال د حساب ورکولو میکانیزم (له دې وروسته د حساب ورکولو میکانیزم) جوړ کړي، څو له بشري حقونو څخه په سیستماتیکه توګه سرغړونو او همدا راز د نړیوالو قوانینو له نوم څخه په ناوړه استفادې له تیرو سرغړونو او هغه سرغړونې چې اوس په ټول افغانستان کې ترسره کیږي، په اړه د حساب ورکولو څخه ملاتړ وکړي.

له ۲۰۲۱ زیږدیز کال راهیسې، ډیر شمیر مدني بنسټونو، له هغې ډلې د افغان او نړیوالو بشري حقونو سازمانونو څخه جوړې دې سترې ډلې د ملګرو ملتونو سازمان د بشري حقونو شورا څخه غوښتنې څو د ځېړنو صلاحیت لرونکی او ځواب ویونکی میکانیزم جوړ کړي څو د نړیوالو بشري حقونو اړوند جرایم او په افغانستان کې له بشري حقونو څخه د نورو سرغړونو شواهد حفظ او تحلیل کړي. دا غوښتنه په دننه افغانستان او بهر کې د افغان مدني ټولنو او د بشري حقونو مدافعانو سره د مشورې او عدالت غوښتنې او همغږئ په پایله کې ترلاسه شوې ده.

په تیرو کلونو کې د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو سازمان ځانګړي ځیرونکي[1] او د هیوادونو یوه سیمه ایزه ګډه ډله [2] هم له دې غوښتنې سره یوځای شوې ده. په ۲۰۲۴ زیږدیز کال کې د بشري حقونو شورا (HRC) دا اړتیا په رسمیت وپیژندله چې " له نړیوالو قوانینو څخه د سرغړونواړوند شواهدو راټولولو، ساتلو او تحلیل کولو ظرفیت ډاډمن شي څو دا شواهد د انتقالي عدالت راتلونکي بهیر په تسهیل کولو کې وکارول شي.

سربېره پر دې، د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې په وروستیو کې یوه پرېکړه (GA/12469) تصویب کړه، چې پکې ټینګار شوی «په افغانستان کې د اوسنیو او تېر وخت د بشري حقونو د سرغړونو او همدارنګه د نړیوال بشردوستانه قوانینو څخه د سرغړونو د ادعاوو د څېړلو اړتیا موجوده ده" او دا هم روښانه شوې چې "د قربانیانو او

---

[1] **د افغانستان لپاره د ځانګړي راپور ورکوونکي سپارښتنې په راپور کې چې د بشري حقونو شورا ته د ۵۹مې ناستې (A/HRC/59/25) په اړه وړاندې شوی، په ۱۱۳ فقره کې له دولتونو غوښتنه کوي چې: «یو خپلواک د حساب ورکولو میکانیزم جوړ کړي چې پراخ واک ولري څو د بشري حقونو او نړیوالو بشردوستانه قوانینو د تېرو او روانو سرغړونو او نقض د حقیقت او اصلي علتونو څېړنه او تثبیت وکړي، شواهد راټول او وساتي، د ادعا شوو مجرمانو پېژندنه وکړي، او د راتلونکو محاکمو او د حساب ورکولو نورو بڼو د ملاتړ لپاره دوسیې تیارې کړي، په شمول د حقیقت موندنې، عدالت او بشپړ او اغېزمن تاوان ورکولو.»**

[2] **آیسلنډ، جنوبي افریقا، چیلي، کوسټاریکا، لیختنشتاین، سویس، لوکسېمبورګ، کولمبیا، سلووینیا، هسپانیا، چیکیا، مکسیکو، فرانسه، افغانستان.**

ژوندي پاتې شویو لپاره د اغېزمنو او مؤثرو جبرانونو د برابرولو اسانتیا او د مسؤلو کسانو د ملي او نړیوالو قوانینو له مخې عدالت ته سپارلو پر اهمیت ټینګار شوی.»[3]

د افغانستان لپاره د حساب یو میکانیزم به د دې هېواد د اوسني کړکېچ په زړه کې د ځو لسیزو اوږدې او رېښه‌ییزې معافیت ستونزې د حل کولو لپاره یو مهم وسیله وي، او همدارنګه به د هغو قربانیانو او ژوندي پاتې شویو لپاره چې د حقونو د سرغړونو ښکار شوي، د عدالت، حقیقت او تاوان د ترلاسه کولو ملاتړ وکړي. دغه د حساب میکانیزم کولای شي په افغانستان کې د قربانیانو او ژوندي پاتې شویو پر محور د عدالت او حساب‌ورکونې لارې پیاوړې کړي؛ د هېواد په کچه د جدي بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه ګټه‌اخیستنو، په ځانګړي ډول د جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي، کلکې او هراړخیزې څېړنې تضمین کړي؛ او د بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه ګټه‌اخیستنو د بیا تکرار د مخنیوي په برخه کې مرسته وکړي، او په هېواد کې د تاوتریخوالي او بې سزا پاتې کېدو ظالمانه چارې ته د پای ټکی کېږدي.

دا میکانېزم به د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي له مهم ماموریت څخه جلا او په عین حال کې تکمیلي وي، کوم چې باید بیا نوي او په بشپړ ډول تمویل شي. سربېره پر دې، دغه میکانېزم کولای شي د نړیوالې جزایي محکمې (ICC)، د نړیوالې محکمې (ICJ)، او همدارنګه په ملي کچه رواني او راتلونکې احتمالي هڅې، په ځانګړي ډول د درېیمو هېوادونو په محکمو کې د نړیوال یا نورو ډولونو او بنو صلاحیت له لارې، او همدارنګه د راتلونکو احتمالي انتقالي عدالت نوښتونو ملاتړ او تکمیل وکړي.

افغانستان د ۴۷ کلونو وسله‌والې شخړې تجربه کړې ده، او د افغانانو دوه نسلونه د جګړې په دوراني کړیو کې بند پاتې دي. د ۲۰۰۱ کال د بون تړون، چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت بنسټ یې کېښود، د دې پرېکړې سره پیل شو چې «په افغانستان کې داغمجنې شخړې پای ته ورسېږي او ملي پخلاینه، دوامداره سوله، ثبات او د بشري حقونو درناوی په هېواد کې ترویج شي». په ۲۰۰۵ کال کې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) د عدالت غوښتنې تر سرلیک لاندې یو تاریخي راپور خپور کړ، چې د زرګونو افغانانو غږونه یې راټول کړي وو، کوم چې د حقیقت، محاسبې او د جګړې اړوندو وحشتونو لپاره د تاوان د ورکړې غوښتنه کوله. دا راپور څرګندوي چې قربانیان، ژوندي پاتې شوي او ټولنه په ټوله افغانستان کې غواړي چې د نړیوالو قوانینو تر چتر لاندې په جرمونو تورن کسان محاکمه شي، د معافیت فرهنګ پای ته ورسېږي، او د هېواد د ژورو زخمونو د درملنې لپاره انتقالي عدالت پلی شي.

د ۲۰۰۴ او ۲۰۱۲ کلونو تر منځ ځو مهم نوښتونه ترسره شول؛ چې په کې پورته یاد شوی «د عدالت غوښتنه»، «د ملګرو ملتونو راپور»، «د افغانستان د عدالت پروژه» او تر ټولو مهم، «د AIHRC د شخړې راپور» شامل وو، کوم چې تر اوسه نه دی خپور شوی.

په تېرو څلورو کلونو کې، طالبانو په افغانستان کې د بشري حقونو د ودې او ساتنې لپاره پخوا منل شوي حقوقي او پالیسي اقدامات ببرته لغوه کړي دي. طالبان، چې د ریښتیني واکمن په توګه عمل کوي، د افغانستان نړیوالو ژمنو ته شا کړې او لا هم د بشري حقونو پر وړاندې د خپل‌سریو، غیرقانوني او پراخو ظالمانه محدودیتونو لګولو ته دوام ورکوي.

طالبانو داسې هڅې کړې چې په بشپړه توګه ښځې او نجونې له ټولنې څخه لرې کړي. ښځې او نجونې لا هم د ثانوي او لوړو زدکړو د لاسرسي له بندیزونو، د کار پر محدودیتونو، د تګ راتګ د آزادۍ له بندیزونو، په عامه ځایونو کې د مخ ښودلو او د غږ پورته کولو له منع، او د بشري حقونو او اساسي آزادیو پر نورو سختو محدودیتونوچې د ۲۰۲۴ د اګست په ۲۱مه د «امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون» (PVPV) کې کوډ شوي سره مخ دي، او همدارنګه

---

[3] A/HRC/RES/57/3, OP21

اساسي خدماتو ته له لاسرسي بې‌برخي کېږي. سربېره پر دې، هغه ښځې او نجونې چې د لږکيو ټولنو پورې تړاو لري اويا معلوليت لري، او همدارنګه د LGBTQI+ ډلې خلک، لا هم له څو اړخيز تبعيض سره مخامخ دي. د ۲۰۲۵ د جولای په ۸مه نېټه، د جزا نړيوالې محکمې د طالبانو د مشر هبت‌الله اخندزاده او د قاضي القضات عبدالحکيم حقاني د نيولو حکمونه صادر کړل، دا کسان د بشريت پر ضد جنايتونو، چې په کې د ښځو، نجونو او د LGBTQI+ کسانو د جنس پر بنسټ ځورونه شامله ده تورن دي.

په افغانستان کې د طالبانو تر واکمنې لاندې د مذهبي او قومي لږکيو ځنډې ته کول لاندې لا پسې زيات شوي دي. مذهبي ټولنې، لکه هزاره ګان، شيعه ګان، اسماعيليان، سيکهان او هندوان، د خپلو مذهبي او کلتوري مراسمو د تنظيم او ګډون په برخه کې له محدوديتونو سره مخ دي. د بشري او اقتصادي ژورېدونکو کړکېچونو سره همماله، طالبانو د ښځو د کار پر وړاندې بنديزونه ولګول چې د مرستو د وېش څارنه يې ټکنی کړې ده، په ځانګړي ډول د هغو کورنيو لپاره چې ښځې يې سرپرستي کوي او نورو يادو ډلو ته.

د طالبانو پر وړاندې د عامه مخالفت او نيوکو ټولې بڼې د سختو، ظالمانه او خپل‌سرو سزاوو او تاوتريخجنو غچ اخيستو لامل ګرځي. ښځې چې په سوله‌ييز ډول د خپلو حقونو لپاره غږ پورته کوي، د بشري حقونو مدافعين، د مدني ټولنې فعالان، خبريالان، هنرمندان، سندرغاړي، قاضيان او وکيلان، ښوونکي، منتقدين او نور کسان لا هم په نښه کېږي. دوی ګواښل شوي، په خپل‌سري ډول نيول شوي او بندي شوي، همدارنګه شکنجه شوي او له ناوړه چلند سره مخامخ شوي دي. د پخواني حکومت او امنيتي چارواکو پر وړاندې له محکمې پرته، خپل‌سري اعدامونه او جبري ترېتم کول ترسره شوي دي. طالبانو ظالمانه او غيرانساني سزاګانې عملي کړې دي، چې په کې عدامونه، په درو وهل او د نارينه وو او ښځو پر وړاندې د جسمي سزا نورو بڼو، په شمول د LGBTQI+ وګړو ځورول، شامل دي. LGBTQI+ وګړي له څو اړخيزې استثنا، همدارنګه له غيرقانوني توقيف، باج اخيستنې، شکنجې او وژنې سره مخامخ دي.

د افغانستان خپلواک حقوقي او قضايي سيستمونه د طالبانو د ديني فتواوو او حکمونو د خپل‌سري تفسير پر بنسټ په يوه داسې نظام بدل شوي دي، چې نور د افغان ولس د حقونو د خوندي کولو توان نه لري. لکه څنګه چې د ۲۰۲۴ د اګست په ۱۴مه نېټه د ملګرو ملتونو د ۲۸ ځانګړو کړنلارو ګډې اعلاميې څرګنده کړه، «په افغانستان کې چې د طالبانو تر کنټرول لاندې دی، د عدالت لاسرسی نړدې په بشپړ ډول له منځه تللی دی.» د دې شرايطو لاندې، طالبانو ځانګړي راپور ورکوونکی (Special Rapporteur) له دې منع کړی چې په ميداني کچه سيمو ته لاسرسی ولري څو د هغوی د دوامدارو، پراخو او پرله‌پسې بشري حقونو د سرغړونو او ناوړه چلندونو پر سر نږدې څارنه او

راپور ورکونه ترسره نکړي».[4] په دې حالاتو کې، طالبانو ځانګړي راپور ورکوونکي ته د هېواد دننه د لاسرسي اجازه نه ده ورکړې، څو د بشري حقونو دوامداره سرغړونې له نږدې وڅاري او راپور يې ورکړي.[5]

د نړیوالو قوانینو له مخې د جرمونو لویه برخه چې په تېرو وختونو کې ترسره شوي، زیاتره جنایتونه چې پکې له محکمې پرته اعدامونه اوغیرقانوني وژنې، لسګونه زره جبري ترېتم کول، جنسي او د جنسیت پر بنسټ جنایتونه، شکنجې او نورې ناوړه کړنې شاملې دي چې د پخواني حکومت، نړیوالو ځواکونو او نورو ملېشو له خوا چې د هېواد په ځینو برخو کې واکمن وو ترسره شوي، لا هم نه دي مستند شوي او نه هم يې په اړه راپور ورکول شوی دی. دا ټولې سرغړونې په بشپړ ډول د معافیت (بېسزا توب) په حالت کې ترسره شوي دي، چې د بشري حقونو د نورو سرغړونو او ناوړه ګټه‌اخیستنو کړی لا پسې تغذیه کوي او د افغانستان لپاره د یو خپلواک نړیوال د حساب ورکونې میکانیزم اړتیا روښانه کوي.

**د پورته څرګندونو په رڼا کې، موږ خپلې غوښتنې یو ځل بیا تکراروو او د بشري حقونو د شورا (HRC) د غړو او څارونکو هېوادونو څخه غوښتنه کوو چې د ۵۷/۳ پرېکړې په چوکاټ کې رامنځته شوي اجماع پر بنسټ د ۶۰ مې ناستې پر مهال د افغانستان لپاره یو خپلواک نړیوال د حساب ورکولو میکانیزم جوړ کړي، چې لاندې واک ولري:**

- د نړیوالو بشردوستانه قوانینو او د بشري حقونو د قوانینو د تېرو او روانو سرغړونو او جرمونو څېړنې، په شمول د ښځو، نجونو او LGBTQI+ وګړو پر وړاندې د جنسیت پر بنسټ ځورونې؛
- د نړیوالو معیارونو سره سم د شواهدو راټولول، ساتل او څېړل، او د حقوقي دوسیو تیاري؛
- د مجرمینو د پېژندنې هڅه، څو هغوی عدالت ته وړاندې شي؛
- د ملي او نړیوالو قضايي پروسو ملاتړ، په ځانګړي ډول د نړیوال جنايي محکمه (ICC) او د نړیوال عدالت محکمه (ICJ)؛

---

[4] ګډ بیان د: د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د ښځو او نجونو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو د کاري ډلې؛ د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي، د هغې د لاملونو او پایلو ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د دایمي کمېټې د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو د رئیس؛ د ماشوم د حقونو د کمېټې د رئیس؛ د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني یا سپکوونکي چلند یا مجازاتو د ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د بشري حقونو او نړیوالې همبستګۍ خپلواک کارپوه؛ د دموکراتیکې خلکو جمهوریت کوریا (شمالي کوریا) کې د بشري حقونو د وضعیت ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د جنسي تمایل او جنسي هویت پر بنسټ د تاوتریخوالي او تبعیض پر وړاندې د ساتنې خپلواک کارپوه؛ د دین یا باور د آزادۍ ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د بې ځایه شویو کسانو د بشري حقونو ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د پاک، سالم او دوامدار چاپېریال د حق ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د عادلانه او دموکراتیک نړیوال نظم د ودې خپلواک کارپوه؛ د انسانانو د قاچاق، په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو د ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د غیرقانوني، لنډمهاله یا د محکمې پرته د اعدامونو ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د معاصرې بنې غلامۍ، د هغې د لاملونو او پایلو د ځانګړي راپور ورکوونکي؛ د کلتوري حقونو په برخه کې ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د اقلیتونو د مسایلو ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د د سوله ییزې غونډې او اتحادیې د آزادۍ د حقونو ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د جبري او غیرارادي تښتونو د کاري ډلې؛ د زده‌کړې د حق ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د بشري حقونو مدافعانو د وضعیت ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د بیان د آزادۍ ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د جذام (هانسن ناروغۍ) له امله د اغېزمنو کسانو او د هغوی د کورنیو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه او د بشري حقونو د خوندیتوب ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د خوړو د حق ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د ۱۹۶۷ کال راهیسې د اشغال لاندې فلسطیني خاورې د بشري حقونو د وضعیت ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د قاضیانو او وکیلانو د خپلواکۍ ځانګړی راپور ورکوونکی؛ د مناسبې استوګنې د حق ځانګړی راپور ورکوونکی، د نړیوالې ټولنې پیغام دا دی چې د طالبانو واکمني په افغانستان کې هېڅکله باید عادي (نورمال) ونه ګڼل شي. سرچینه: OHCHR (۱۴ اګست ۲۰۲۴) لینک

[5] https://www.ohchr.org/en/statements/2024/08/un-special-rapporteur-says-committed-people-afghanistan-despite-taliban-barring.

- د عدالت، حقیقت او د قربانیانو لپاره د جبران د خوندي کولو سپارښتنې وړاندې کول؛
- د بشري حقونو شورا او د ملګرو ملتونو نورو ارګانونو ته د بې حسابۍ د پای ته رسولو او د عدالت د خوندي کولو په اړه سپارښتنې وړاندې کول؛

د افغانستان د بشري حقونو د څانګړي راپور ورکوونکي او نورو میکانیزمونو د کار بشپړول او ملاتړ.دغه میکانیزم باید د جنسیت، د ماشومانو د حقونو، او د قربانیانو او ژوندي پاتې کسانو د حقونو پر بنسټ جوړ شي، او د افغانستان د مدني ټولنې پراخ ګډون خوندي کړي.

د بشري حقونو شورا په خپله ۶۰مه ناسته کې، باید د افغانستان د بشري حقونو د څانګړي راپور ورکوونکي چې مهم ماموریت لري، لازمې سرچینې ورته برابرې کړي، د ښځو او نجونو د وضعیت په اړه د لا زیات تعامل څانګړې فضا خوندي کړي، او د راپور ورکوونکي سپارښتنې په معنا لرونکي ډول تعقیب کړي.

موږ له غړو او څارونکو هېوادونو غوښتنه کوو چې نور د ځنډ پرته عملي ګامونه واخلي، د افغانستان د خلکو ترځنګ ودریږي، د قربانیانو، ژوندي پاتې کسانو او د هغوی د کورنیو ملاتړ وکړي، څوک چې د عدالت او حساب ورکونې غوښتونکي دي، او د هغو بشري حقونو مدافعانو ترځنګ ودرېږي، چې په سختو څانې خطرونو کې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.

**Supported by: National Organisations**[6] (alphabetical order)

1. Afghan Canadian Civil Society Forum - ACCSF
2. Afghan Human Rights Defenders in Exile - AHRDE
3. Afghan Journalists in Exile - AJE
4. Afghan Women Coordination Umbrella - AWCU
5. Afghan Women Education and Vocational Services Organization - AWEVSO
6. Afghan Women News Agency - AWNA
7. Afghan Youth in New Era Organization - AYNEO
8. Afghanistan Civil Society Forum Organization - ACSFO
9. Afghanistan Democracy and Development Organization -ADDO
10. Afghanistan Human Rights and Democracy Organization – AHRDO
11. Afghanistan Human Rights Center - AHRC
12. Afghanistan Human Rights Defenders Committee - AHRDC
13. Afghanistan LGBTIQ+ Organisation - ALO
14. Afghanistan Powerful Women Movement - APWM
15. Afghanistan Research & Advocacy Institution for Human Rights - ARAIHR

[6] We have also received endorsements from dozens of national and three international human rights and humanitarian organisations operating within Afghanistan. However, due to security considerations, we are not in a position to disclose their names.

16. Afghanistan Service, Cultural and Rehabilitation Center -– ASCRO
17. Afghanistan Vision Forum 2030
18. Afghanistan Womenn’s Studies Academy (AWSA)
19. Afghanistan Women’s Solidarity Movement - AWSM
20. Afghanistan Women's New Future Movement - AWNFM
21. Afghanistan Women's Political Participation Network - AWPPN
22. Afghanistan’s Powerful Women’s Movement - APWM
23. Alternative Links for Training and Development - ALTD
24. Aria Afghan Media Group - AAMG
25. Armanshahr | OPEN ASIA
26. Assembly of Scientists and Experts of Afghanistan - ASEA
27. AWA Legal and Social Advisory Hub - AWA
28. B-BOLAQ
29. Borderless Amu Movement – BAM
30. Cultural Front of Afghanistan - CFA
31. Civil Society and Human Rights Activists Network - CSHRAN
32. Civil Society and Human Rights Network - CSHRN
33. Civil Society Joint Working Group - CSJWG
34. Community Relief and Care Organization - CRCO
35. Development and Support of Afghan Women and Children Organization - DSAWCO
36. Dialogue Hub - DH
37. Digital Civil Society Institute - Azady
38. Edmonton Hazara Association - EHA
39. Education Defenders Network - EDN
40. Equality and Social Cultural Organization - ESCO
41. Fatema Foundation - FF
42. Fekr-e-Sabz Organization - FSO
43. Femena
44. Feminine Solidarity for Justice Organization - FSJO
45. Generation of Peace Society - GPS
46. Generation Positive - G+
47. HAMRAH
48. Hazara Council of Great Britain - HCGB
49. Human Rights Defenders Plus - HRD+
50. Humanitarian Assistance Empowerment Organization - HAEO
51. Incident Prevention to Assist the People Organization - IPAPO
52. Independent Coalition of Afghanistan Women’s Protest Movements - ICAWPM
53. Lajivard Yolu Research & Policy Center - LYRPC
54. LEARN Afghan
55. Mawoud Academy - MA
56. Multi culturele Vruwen Vereniging - McVV
57. Nationals Movement Against Discrimination - NMAD
58. Network of Afghan Women in Urban Government - NAWUG

59. New-Naweed Weekly
60. Not To Rigor Organization - NRO
61. Organization for Policy Research and Development Studies - DROPS
62. Par Cultural Center - PCC
63. Pol Non-Profit Organisation - PNPO
64. Progressive Forces of Afghanistan Movement - PFAM
65. Rah-e-Madanyat Daily
66. Rawadari
67. Shahmama
68. Shahrvand Social and Legal Research Organization - SSLO
69. Spontaneous Movement of Afghan Women Protesters - SMAWP
70. Support for Afghan Girl's Education - SAGE
71. Tabesam Cultural and Social Services Institute – TCSSI
72. Terrorism Victims Protection Organization- TVPO
73. The Rahyab Initiative - RI
74. Together for Equality Organization -T4E
75. Tolo Social and Civic Organization - TSCO
76. Transitional Justice Coordination Group - TJCGJ
77. Verband afghanischer Organisationen in Deutschland e.V. - VAFO
78. Wahaj Welfare Organization for Afghanistan - WWOA
79. Window For Hope – W4H
80. Women Advocacy Committee - WAC
81. Women and Children Advocacy Network - WCAN
82. Women Beyond Borders - WBB
83. Women Media Advocacy Group – WMAG
84. World Council of Panjshirians
85. Yaar.e.V
86. Youths Foundation of Democracy Proponents - YFDP

**Supported by: International Organizations**

1. Amnesty International – AI
2. Asia Democracy Network - ADN
3. Asian Forum for Human Rights and Development - FORUM-ASIA
4. Center for Human Rights Advocacy - CHRA
5. Centre for Dialogue and Progress- Geneva – CDP-G
6. Coalition for Genocide Response - CGR
7. Freedom Now
8. Global Justice Center - GJC
9. Human Rights Activists Union - HRAU
10. Human Rights Watch - HRW
11. International Bar Association’s Human Rights Institute – IBAHRI
12. International Federation for Human Rights - FIDH

13. International Service for Human Rights - ISHR
14. MADRE
15. South Asia Collective - SAC
16. South Asia Justice Campaign– SAJC
17. South Asians for Human Rights - SAHR
18. The Alliance for the Prevention of Atrocity Crimes - APAC
19. The Duty Legacy - TDL
20. The International Commission of Jurists - ICJ
21. Women's International League for Peace and Freedom - WILPF
22. World Organisation Against Torture - OMCT